# دافغانستان دماین پاکۍ پروګرام

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د جون میاشتي خبر پاڼه

## دهرټ لاکر فلم ستوری دافغانستان دماین پاکی چارو له پروګرام څخه لیدنه وکړه



جیریمی رینر د بګرام په ولسوالی کی د ماین د ساحی څخه لیدنه کوی

روانه میاشت دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز دامریکایی فلمونو دنامتو ستوري کوربه و چې دهرټ لاکر په نوم فلم یې داوسکار جایزه خپله کړې وه. نوموړی دملګرو ملتونو دپلاوي په ډله کې په ټریواله توګه دماینونو په اړه دپوهاوي دکچې دلوړولو په موخه افغانستان ته سفر درلود تر څو په دې هیواد کې دماین پاکي پرسونل کار له نږدې څخه وګوري.

ښاغلي رینر دخپل څلور ورځني سفر په ترڅ کې په بامیانو کې دنړیوالو تاریخي میراثونو له سیمو څخه لیدنه وکړه چې تیر کال له ماینونو او نورو ناچاودو توکو څخه پاکې شوې وې. نوموړي همدارنګه دبګرام په ولسوالی کې دماینونو له یوې سیمې څخه لیدنه وکړه او له ماین پاکانو سره یې خبرې وکړې. په کابل کې یې په یوه ښوونځي کې دماینونو دخطرونو په اړه زدکړې وکتلې او دماینونو له قربانیانو سره یې ددوې دتجربو په اړه خبرې وکړې.

ښاغلي رینر وویل: " زه یو اداکار یم او له دې امله غواړم چې وګورم ملګري ملتونه او ددوې همکاران دلته څه کوي. دلته دتمثیل خبر مطرح نه ده، باید داسې اقدامات تر سره شی چې دغه ستونزه حل کړي.




جیریمی رینر د حبیبه لیسی د زده کوونکو په منځ کی— د کابل ښار

زه دلته راغلی یم چې دماینونو دستونځې په اړه معلومات تر لاسه کړم او هغه دنړیوالو غوږونو ته ورسوم ، که چیرې مناسب تمویل تر سره شي نو دغه ستونځه اواریږي. "

دغه ستوري په دې وروستیو کې دملګرو ملتونو دماین پاکي خدمتونو اداري ته یو فلم جوړ کړی وو چې تاسې [www.mineaction.org](http://www.mineaction.org) د کولای شي ویب پاڼې له لیارې یې وګورئ.



چمتو کوونکی : دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږي مرکز، دافغانستان دماین پاکی دپروګرام په استازیتوب .

## د افغانستان د ماین پاکي چارو د همغږی مرکز د ژوند د اسانتیاوو دتل پاکی کړنلارو تحقیقاتی تریننګ ترسره کړ

په لومړی قدم کی پدی خاطر چی د ماین پاکی چارو د اغیزو په اړه وپوهیږو د افغانستان د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز او د ماین پاکی چارو ریاست په کوربه توب یو تحقیقاتی روزنیز ورکشاپ ترسره شو. نوموړی پروژه د ژوند د اسانتیاوو د سروی په نامه هم یادیږی او د جینیوا د بشردوسته ماین پاکی مرکز له لاری پر مخ وړل کیږی چی د ملګری ملتونو د ماین پاکی چارو د اداری سره یی قرار داد لاسلیک شوی ، تر څو ورسره د نوموړی امتحانی پروژې د دیزان او پرمخ وړلو کی مرسته وشي.

په نوموړې پنځه ورځنیز ورکشاپ کې ټولو هغو کسانو برخه درلودله چې په ټولنیزو ـ اقتصادي چارو دماینونو داغیزو درې اونیز ورکشاپ پر مخ وړي. په نوموړی تریننګ کی د افغانی موسسو لکه (هلو ټرسټ، ډی ډی جی، اومر، ام سی پی ای، او ای آر سی اس) د ماین پاکی چارو ریاست او افغانستان تحقیقاتی او پرمختیا انسټیټیوټ چی د کلیو د پراختیا وزارت یوه څانګه ده ګډون درلود چی د جینیوا د بشردوسته ماین پاکی مرکز د ژوند د اسانتیاوو تل پاتی کړنلاری د ماهرینو او د افغانستان د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز د کارمندانو لخوا تسهیل شوی وو. د ټرینګ موخی د سروی پر اساساتو، اسبابو او کړنلارو باندی پوهیدل او همدارنګه د مهارتونو او د اسبابو په عملی شکل



استعمالول وو ترڅو د سروی په اساساتو او قوانینو باندی هوکړه ترلاسه شی. نوموړی پروژه به د افغانستان د مرکزی او شمالی سیمو په ۲۵ ټولنو کی د روان کال د جون د میاشتی د ۲۶می نیټی څخه د جولای د میاشتی د ۱۵می نیټی پوری ترسره کیږی. د افغانستان د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز په پام کی لری ترڅو د د ټولنو په سطحه د لنډی مودی سروی ګانی ترسره کړی ترڅو د ماین پاکي چارو د ټولنیزو۔ اقتصادی لاسته راوړنو اغیزی پرتله کړی او هغه کړنلاری په ګوته کړی کومی چی د افغانستان د ماین پاکی پروګرام باید د دافغانستان د پرمختګ لپاره ترسره کړی.

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال له جنوري څخه تر جون پورې دماینونو او ناچاوده توکو پیښې

| میاشت | ۱۸ کلن او له دې څخه کوچنیان | | له اتلس کلونو څخه لویان | | نامعلوم | ټول ټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | | |
| جنوری | ۳۳ | ۳ | ۲۲ | ۱ | ۰ | ۵۹ |
| فبروري | ۱۱ | ۱۴ | ۱۳ | ۳ | ۱ | ۴۲ |
| مارچ | ۵۶ | ۵ | ۲۱ | ۰ | ۰ | ۸۲ |
| اپریل | ۱۵ | ۰ | ۴ | ۰ | ۰ | ۱۹ |
| می | ۱۳ | ۲ | ۳ | ۲ | ۰ | ۲۰ |
| جون | ۷ | ۳ | ۳ | ۲ | ۰ | ۱۵ |
| **ټوله مجموعه** | ۱۳۵ | ۲۷ | ۶۶ | ۸ | ۱ | ۲۳۷ |

## په افغانستان کې دماين پاکولو موخې

**داوتاوا پريکړې :**

* تر ۲۰۱۳ زيږديز کال پورې په بشپړه ټوګه د پرسونل ضد  ماينونو پاکول.
* تر ۲۰۰۷ زيږديز کال پورې دپرسونل ضد ماينونو دزيرمو له منځه وړل.
* افغانانو ته دماين دخطرونو په اړه دزده کړو ورکول او له ماين ځخه اغيزمنو کسانو سره مرسته .

**دافغانستان (Compact ) ژمنې :**

* هغه سيمې چې په ماينونو اوله جګړوپاتې  ناچاوده توکو ککړې دي د۲۰۱۱  کال دمارچ تر مياشتې به په سلو کې ۷۰ پاکې شي .
* دپرسونل ضد ماينونوزيرمې به د ۲۰۰۷ زيږديز کال دمارچ تر مياشتې په بشپړه توګه له منځه ويوړل شي.

**د پرسونل ضد ماينونو دزيرمو له منځه وړل:** افغانستان داوتاوا دپريکړو دخلورمې  مادې له مخې چې  د ۲۰۰۷ زيږديز کال داکتوبر په مياشت کې به دهيواد په کچه د پرسونل ضد ماينونوټولې زيرمې له منځه وړې ترسره کړه .

## هغه کليدي ټکي چې په افغانستان کې دماين په اړه دموخو دترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي .

* د شته ظرفيتونو ساتنه.
* په ټولنو کې دخلکوله خوادماين پاکولو دپروګرام پراختيا.
* د ماين پاکی دځانګړو پروژو پروګرام .
* د موسساتو او دماين پاکي کمپنيو له خوا د آزادو سياليو له لارې دماين پاکي دچارو پر مخ بيول.
* دماين پاکي دموخو دلاس ته راوړلو لپاره دکافي بوديجې برابرول .

## دموخو دترلاسه کولو په وړاندې ستونځې

*دافغانستان دماين پاکی چارو دهمغږې  مرکز بايد دافغانستان دژمنې او داوتاوا دکنوانسيون دپريکړو موخو ته درسيدو لپاره په خپلو مالي سرچينو کې زياتوالی راولي. ددغو پيسو ورکړه بايد له وړاندې تر سره شي په دې معنی چې پيسې بايد دکال له پيل ځخه وړاندې پروګرام ته ورکړ شي تر ځو له هغه ځخه په سمه توګه ګټه پورته شي. که پيسې له وړاندې ورکړشي نو پروګرام ددې تخنيکي وړتيا لري چې ټاکلې ټولې موخې تر لاسه کړي .*

## د ۲۰۱۰ زيږديز کال له جنوري ځخه تر جون پورې دماين پاکې لاس ته راوړنې

* ۱۱،۳۴۴دپرسونل ضد ماينونه ، ۴۱۲ دټانک ضد ماينونه او  ۳۸۳،۸۴۴ نا چاوده توکي له منځه ويوړل شول.
* ۶۵ داستوګنو سيجون دماينونو او نورو نا چاوده توکو له شتون ځخه پاکې اعلان شوې.
* ۱۸۵،۵۴۴ ښځو  او نجونو  ۲۵۷،۹۳۴ لوډانو او هلکانو ته دماين دخطر په اړه زده کړې ورکړل شوې.

## دموخو دجدول په اړه نوټ

**دموخو جدول :** کله چې د ۲۰۰۶ زیږدیز کال دجنورۍ په میاشت کې دافغانستان ژمنه (کامپکت) لاسلیک شو ، دخطر سیمه ۷۱۹ کیلومتر مربع پاکل شوې وه. له دې کبله دخطر دسیمې ۷۰ په سلو کې پاکول چې ۵۰۳ کیلومتر مربع کیږي دافغانستان ژمنه جوړوي. دموخو لاندنی جدول په ګوته کوي چې تر دې مهاله ۵۷۴ کیلومتر مربع څمکه پاکه شوې . په دې معنی که چیرې لومړنی پاکل شوې موخې نه وای بدل شوې ، نو دافغانستان دماین پاکې پروګرام په سلو کې د ۷۰ پاکل شوبو ژمنو څخه لا زیاتې سیمې پاکې کړې دي.

که څه هم هغه لومړنی موخې چې هغه مهال پاکل شوې وې، په حقیقت کې دخطر دسیمو کټلې انځور نه جوړوي. خو دتیرو کلونو په ترڅ کې ډیر کاروونه تر سره شول تر څو ډاډ تر لاسه شي چې په ملي معلوماتي ذخایرو کې دخطر دسیمو دقیقه شمیره شتون لري. ددغو بدلونونو په اړوند دلازیاتو معلوماتو لپاره د ۱۳۸۹ لمریز کال دکارې چوکاټ ۲۵-۲۶ مخونو ته مراجعه وکړئ چې د [www.macca.org.af](http://www.macca.org.af) انترنټ پاڼې له لارې ورته لاسرسی پیدا کولای شی. په لنډه توګه ، دغه کار په لومړنیو پاکل شویو موخو کې دزیادت لامل شو.

لومړنی پاکل شوې موخې او دهغو لور ته پرمختګ په لاندې جدول کې ښودل شوي: په داسې حال کې چې دخلکو دبیرته راستنیدلو بهیر هیواد ته روان دی او خلک بیرته خپل هیواد کې میشت کیږي دخطر دنویو سیمو د موندلو بهیر به هم دوام ومومي. سر بیره پر دې دهیواد سهیل لور ته دشورشیانو له خوا یو شمیر دخطر نوې سیمې جوړې شوې خو نه دکمربند په څیر په لوړه کچه. نو له دې امله داسې اټکل کیږي چې لومړنی موخې به بیا تغیر ومومي او موخو ته رسیدل به دننګونو پر بنسټ له خنډ او ځنډ سره مخ شي.

**دماین پاکولو دموخو د ترلاسه کولو لور ته دافغانستان پرمختګ: داوټاو دکنوانسیون او دافغانستان د ژمنې (کامپکت) له مخې تر ۲۰۱۱ زیږدیز کال پورې ۷۰ فیصده دماین دسیمو دکچې ټیټول او تر ۲۰۱۳ پورې دټولو ماینونو له منځه وړل.**

| | د ۲۰۱۰ زیږدیز کال په مارچ کې تعدیل شوې موخې | د ۲۰۱۰ زیږدیز کال په مارچ ۳۱ماه کې په ماینونو ککړې پاتې سیمې | هغه سیمې چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د مارچ تر ۳۱مې پورې پاکې شوې | ۷۰ په سلو کې پاکل شوې موخې | دافغانستان دژمنې له مخې دپاکل شویو موخو لاس ته راوړل | داوټاوا دتړون له مخې په سل کې دموخو لاس ته راوړل | داوټاوا دتړون له مخې دپاکل شویو موخو لاس ته راوړل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دخطر دسیمو شمیر | ۱۱،۷۳۶ | ۶،۶۶۸ | ۵،۰۵۳ | ۸،۲۱۵ | ۶۱% | ۱۱،۷۳۶ | ۴۳% |
| دخطر دسیمو مساحت ( کیلومتر مربع) | ۱،۲۳۱ | ۶۵۷ | ۵۷۴ | ۸۶۲ | ۶۷% | ۱،۲۳۱ | ۴۷% |

## دماین پاکولو ستراتیژي

دافغانستان دماین پاکولو د ستراتیژي له مخې چې افغانستان باید د ماینونو او ناچاوده توکو له شتون څخه پاک هیواد وي، چیرته چې خلک وکړای شي په امن کې ژوند وکړي او دهیواد دپرمختګ لپاره لاره هواره کړي او دماینونو او ناچاوده توکو څخه اغیزمن کسان وکړای شی په ټولنه کې په کار بوښت شي ، حقونو او غوښتنې یې په ګوته شي او اعاده شي.

ددې لپاره چې دغه لرلید په حقیقت بدل شي دافغانستان دملي پرمختیا د ستراتیژي په چوکاټ کې ځینې موخې پاکل شوې چې داوټاوا دکنوانسیون دپریکړو سره سمون لري.

## دماين پاکي چارو دملي ظرفيت لوړول



دچهار آسیاب په ولسوالی کی د MDDدماین پاکولو تیمونه - جون ۲۰۰۹

دافغانستان دماين پاکی چارو دهمغږي مرکز ( MACCA ) چې دملګرو ملتونو له خوايې ملاتړ کيږي دپيښو سره دمبارزې درياست ( ANDMA ) په چوکاټ کې دماين پاکولو درياست ( DMC ) له لیاری دګډ کار لپاره لاره هواره کړه تر څو په افغانستان کې دماين اړوند چارو دپلان جوړولو ، هم غږی او دکيفيت دښه کولو چارې تر سره کړي . دوزارتونو تر منځ وروستی غونډه دمارچ دمیاشتې په ترڅ کې تر سره شوه چې پکې دمسی عينک دموضوع تر څنګ پر نورو مهمو موضوعاتو بحث وشو او دوزارتونو تر منځ معلومات شريک شول.

## دافغانستان دماين پاکی پروګرام او دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز په اړه معلومات



دسمنګانو په ولايت کې دماين پاکي عملیات

دماين پاکی بشري پروګرام په کال ۱۳۶۸ کې په افغانستان کې رامنځ ته شو چې دماين پاکي ټول ارکان پکې نغښتي دی لکه تبليغات ، سروې ، دماينونو پاکول ، دماينونو دزيرمو له منځه وړل ، دماينونو دخطر په اړه زده کړې او دماينونو له قربانیانو سره مرسته. دافغانستان دماين پاکی پروګرام دملګرو ملتونو د وجهې صندوق او نورو دوه اړخيزو او څو اړخيزو لارو تمويليږي.

په افغانستان کې دماين پاکي پروګرام ټولې همکاره موسسې چې په مجموعی ډول دافغانستان دماين پاکې په نوم پيژندل کيږي په نړی کې تر ټولو لوې دماين پاکی پروګرام جوړوي. دغه ټولې موسسې په افغانستان کې دماينونو دپاکولو په برخه کې ۲۰ کلنه بريالی سابقه لري چې ۱۲،۰۰۰ په ماينونو ککړې سیمې يې دهيواد په کچه پاکې کړي. دافغانستان دماين پاکی پروګرام چارې دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږې مرکز له خوا همغږې کيږي چې دملګرو ملتونو له خوا تمويليږي. دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږې مرکز په پروان ، هرات ، جلال آباد ، مزار ، کندز ، ګرديز ، او قندهار کې سيمه ييز دفترونه لري چې دماين پاکي چارو دهمغږې دسيمه ييزو مرکزونو په نوم ياديږي.

**هغه هيوادونه چې دافغانستان دماين پاکی له پروګرام څخه ملاتړ کوي:**

